


Download from:aghalibrary.cm

د حج ښه ملګري کتاب څخه

## د حج او عمرې ښه والی

د رسول الله ﷺ څخه د حج او عمرې په فضیلت او ښه والي کي ډېر حدیثونه رانقل سوي دي خو دلته درې حدیثونه د ژباړې او متن سره درته بیانوو .

رسول الله ﷺ فرمایلي دي : مَنْ حَجَّ لِلَّهِ فَلَمْ يَرْفُثْ وَلَمْ يَفْسُقْ رَجَعَ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ. (رواه البخاري عن ابي هريرة )

ژباړه : که څوک د الله جل جلاله د پاره حج وکړي او په حج کي بېهوده او د فسق خبري او د فسق کارونه و نه کړي نو هغه به کورته د ګناه څخه دا ډول پاک راستون سي لکه په کومه ورځ چي د مور څخه زېږېدلی وو .

رسول الله ﷺ فرمایلي دي : تَابِعُوا بَيْنَ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ فَإِنَّهُمَا يَنْفِيَانِ الْفَقْرَ وَالذُّنُوبَ كَمَا يَنْفِي الْكِيرُ خَبَثَ الْحَدِيدِ وَالذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَلَيْسَ لِلْحَجَّةِ الْمَبْرُورَةِ ثَوَابٌ إِلَّا الْجَنَّةُ. (رواه ترمذي عن عبد الله بن مسعود )

ژباړه : تاسو حج او عمره یو په بل پسې اداء کوئ ځکه حج او عمره فقر او ګناهونه دا ډول له منځه وړي لکه څه ډول چي د پښ کوره د اوسپني ، سرو او سپینو زرو سره ګډ ناکاره شیان او کوټ سره بېلوي او قبول سوی حج بېله جنت څخه بل ثواب او بدله نه لري .

په دې حدیث کي بیا د حج او عمرې دواړو څو فضیلتونه ذکر سوي دي یو دا چي حج او عمره چي څوک اداء کوي نو هغه به الله جل جلاله د فقر او مسکنت څخه وساتي .

ځیني کسان د دې بېري څخه حج او عمره نه اداء کوي چي وایي خرڅ مي کیږي دا سي نه سي چي سبا اړ او محتاج سم په دې حدیث کي مسلمانانو ته ډاډ او اطمنان ورکول سوی دی چي د فقر او مسکنت څخه مه بېرېږئ بلکي د حج او عمرې په وسیله سره مو الله جل جلاله فقر او لوږه له منځه وړي .

دا د حج او عمرې دنیاوي ګټه سوه او د آخرت ګټه یې دا ده چي ټول ګناهونه یې په رژول کیږي لکه څه ډول چي سره یا سپین زر پښ په کوره کي ویلي کړي او هغه کوټ چي ورسره ګډ وي هغه یو مخ ځني را بېل کړي ، خالص سل په سلو کي سره او سپین زر پاته سي ، همدا ډول په حج او عمره مسلمان د ګناه څخه پاک کېږي او مبرور حج یعني هغه حج چي په هغه کي څوک د ګناه خبري او د ګناه کارونه و نه کړي دو نه زیات ثواب لري چي هغه ته به حتما الله جل جلاله جنت په عوض کي ور کوي .

ابنِ عَبَّاسٍ رضی الله عنهما وایي رسول الله ﷺ د انصارو یوې ښځي ته چي اُمِّ سِنَانٍ نومېدله وویل : تا ولي زمونږ سره حج و نه کړی ؟

هغې ورته وویل چي زما څښتن دوه اوښان لرل پر یوه هغه او زوی حج ته ولاړل او په بل اوښ باندي زمونږ مریي اوبه راکښلې ، رسول الله ﷺ ورته وویل : فَعُمْرَةٌ فِي رَمَضَانَ تَقْضِي حَجَّةً أَوْ حَجَّةً مَعِي. (مسلم )

ژباړه : نو د رمضان یعني د روژې د میاشتي عمره د حج ځای نیسي او یا یې دا سي ورته وویل : زما سره د حج کولو ځای نیسي .

دا چي په حج او عمره کي هم دنیاوي او هم اخروي ګټې نغښتي دي نو ځکه رسول الله ﷺ وایي چي تاسو کله حج او کله بیا عمره یو په بل پسې ادا کوئ.

www.taleemulislam.net

# عمره

عمره سنت ده البته د پنځو ورځو څخه پرته نور په ټول کال کي د شپې او د ورځي هره میاشت او هره ورځ عمره ادا کېدلای سي .
د عرفات په ورځ، د لوی اختر په لومړی ، دوهمه ، دریمه او څلورمه ورځ عمره نه اداء کیږي دا ځکه چي په دې پنځو ورځو کي د عمرې اداء کول کراهیت لري.

په عمره کي څلور شیان کیږي:


- لومړی: احرام تړل ،
- دوهم: پر کعبه شریفه باندي طواف کول ،
- دریم : د صفا او مروا تر منځ تګ او راتګ کول ،
- څلورم: نارینه سر خریي یا یې وربښتان کوچني کوي او ښځي فقط د سر وربښتان د ګوتي د سر په اندازه کوچني کوي .

## د عمرې احرام

څوک چي عمره اداء کوي نوتر هر څه وړاندي به په خپل کور او وطن یا په میقات ځای کي احرام تړي ، د مېقات بیان به وروسته درته کیږي .

احرام نیت او تلبیې ته وایي خو د احرام څخه مخته په کار ده چي بدن پاک او ستره کړي غسل یا اودس تازه کړي ، نارینه د احرام جامې واغوندي یعني لونګ ووهي او پټو پر اوږو واچوي او که د نفلي لمانځه د اداء کولو وخت وو نو دوه رکعتونه نفلي لمونځ په پټ سر اداء کړي .

د لمانځه وروسته به دعاګاني وکړي څو الله جَلَّ جَلَالُهُ دا عمره ورته اسانه او ځني قبوله یې کړي ، د دعا څخه وروسته به په زړه کي د عمرې د اداء کولو نیت وکړي دا د زړه نیت فرض دی او په خوله به هم خپل نیت داسي بیان کړي : ای الله ! ما د عمرې اراده کړې ده ته یې راته اسانه او را څخه قبوله کړه ، د نیت وروسته دي تلبیه نارینه په لوړ آواز او ښځي دې په ټیټ آواز ووایي :




لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ

عمره کونکي ته په عربي مُعتمِر وایي ، د عمرې په نیت او د تلبیې په ویلو مُعتمِر محرم ګرځي ، لکه څه ډول چي د لمانځه بندیزونه د لمانځه د نیت او د نیت وروسته د تحریمې په تکبیر یعني د الله اکبر د ویلو وروسته لګول کیږي همدا ډول د احرام بندیزونه هم د حج یا عمرې د نیت او تلبیې ویلو وروسته لګول کیږي .

د عمرې د نیت او تلبیې وروسته عمره کونکی نوکان او وربښتان نه سي کوچني کولای ، عطر پر ځان نه سي وهلای ، مېږه او ماینه خپل منځي جنسي اړیکي نه سي پوره کولای او نه یو و بل ته په شهوت او خوند لاس وروړلای سي او نه یې مچولای سي ، نارینه ټوپۍ او لنګوټه نه سي پر سر کولای او نه بوټونه ، پرتوګ او قمیص اغوستلای سي بلکي لوڅ سر به وي ، ساده ټوکران به د قمیص او پرتاګه پر ځای پر ځان راپیچي او داسي څپلۍ به په پښو کړي چي بجلکي وړپټي نه کړي، ښځي په احرام کي خپلي

www.taleemulislam.net

عادي جامي اغوستلای سي خو د ښځي د احرام بنديز په مخ کي دی ، ښځه به په احرام کي مخ نه پټوي البته ځوانانی ښځي د مخ څخه ليري ټوکر ځوړند کولای سي تر څو د پرديو نظر پر و نه لګيږي .

ښځي د حيض او نفاس په ناروغيو کي هم احرام تړلای سي خو چي مکې مکرمې ته ورسيږي تر هغه مهاله د عمرې طواف نه سي کولای او نه مسجد حرام ته ورننوتلای سي تر څو چي ناروغي يې ختمه سوې نه وي . د حيض او نفاس څخه چي پاکه سي غسل وکړي بيا طواف او سعي کولای سي .



## د عمرې طواف

عمره کونکی چي مکې مکرمې ته ورسيږي ،مسجد حرام ته به ولاړ سي څه مهال چي پر کعبه شريفه يې نظر ولګيږي الله اکبر او لا اله الا الله به ووايي او بيا به طواف د حجر اسود څخه پيل کړي ، دا طواف فرض دی ، عمره کونکی څونه چي وکولای سي تلبيه دي وايي خو د طواف د پيل کولو سره تلبيه ختميږي نور نو عمره کونکی تلبيه نه وايي، د عمرې طواف او بل هر طواف د حجر اسود څخه پيليږي . د طواف شروع کولو په نيت دي حجر اسود مخ کړي که حجر اسود ته د ګڼي ګوڼي لکبله نه سوای ور نژدې کېدلای نو د حجر اسود پر برابر مځکنی کرښي دي مخامخ حجر اسود ته ودريږي د بسم الله و الله اکبر د ويلو سره سم دي لاسونه پورته کړي ، بيا دې دا ډول کښته کړي لکه پر حجر اسود چي يې ايږدي ، بيا دې د ورغوي لخوا خپلي ګوتي مچ کړي او پر کعبه دي طواف پيل کړي .

د يادوني وړ ده چي د طواف نيت په خوله نه ويل کيږي بلکي حجر اسود ته چي دی د طواف په اراده ورځي همدا يې د طواف نيت دی ، حجر اسود مچول يا د ليري څخه لاس يا لکړه ورغځول يا لاسونه ورته پورته کول استلام بلل کيږي د استلام څخه وروسته طواف پيليږي ، اووه ځلي به پر کعبه شريفه را ګرځي .

پر بيت الله هر ځل راګرځېدلو ته په عربي شوط ويل کيږي اووه شوطونه يو طواف کيږي ، هر شوط د لومړي شوط په شان په استلام پيليږي .

## اوږه لوڅول

نارينه به د طواف د شروع کولو څخه مخته ښۍ اوږه لوڅه کړي يعني د پټو په يوه سر دي چپه اوږه پټه کړي او د پټو دا بل سر دي تر راسته اوږې لاندي په اړخ کي را تاو کړي او پر چپه اوږه دي واړوي ، په طواف کي د ښۍ اوږې لوڅولو ته په عربي کي اضطباع وايي او اضطباع يعني د اوږې لوڅول يوازی په هغه طواف کي کيږي چي وروسته يې د صفا او مرواتر منځ تګ کيږي او هم يې د احرام جامې په تن وي .




## د پهلوانۍ منډه

نارينه عمره کونکي به د طواف په اولو درو شوطونو کي د پهلوانی منډه وهي يعني اوږې به ښوروي او چت اوچت لنډ لنډ ګامونه به اخلي لکه څه ډول چي د سپورټ لپاره خلګ ځغلي . دا د پهلوانۍ وځغاستي ته په عربي کي رَمل ويل کيږي ، رَمل هم يوازي په هغه طواف کی کيږي چي تر هغه وروسته صفا او مروا کيږي لکه د عمرې طواف .

# د طواف لمونځ

د هر طواف وروسته دوه رکعته لمونځ واجب دی ، عمره کونکی چي طواف وکړي نو وروسته به يې دوه رکعته د طواف لمونځ کوي ، د طواف د لمانځه د پاره تر ټولو غوره ځای مقام ابراهيم دی ، يعنی د مقام ابراهيم شاته دي دا ډول ځای ودرېږي چي مقام ابراهيم دده او د کعبې شريفي تر منځ راسي ځکه په لمانځه کي به مخامخ وکعبې شريفي ته درېږي که ځوک و مقام ابراهيم ته دا ډول ودرېږي چي مخ يې د کعبې څخه چپ وي نو د هغه لمونځ نه صحيح کيږي ،که ګڼه ګونه زياته وه او د مقام ابراهيم شاه وخواته هم طواف کونکي رسېدل نو بيا به د طواف کونکو مخ نه بندوي ،ځکه د طواف لمونځ په مسجد حرام کي هر ځای کولای سي آن تر دې چي د مسجد څخه دباندي يې لا هم هر ځای کولای سي .




که ځوک د طواف څخه د مازيګر ترلمانځه وروسته فارغ سي يا د سهار د لمانځه په مهال کي فارغ سي نو بيا به د طواف لمونځ ځنډوي په داسي وخت کي به د طواف لمونځ کوي چي په هغه وخت کي نفلي لمونځونه کېدلای سي . تر طواف وروسته دي د زمزم په اوبو ځان ښه اوبه کړي .

# سعي

د صفا او مروا تر منځ تګ او راتګ ته سعي ويل کيږي ، په حج او عمره کي يو ځل سعي کول واجب ده ، لکه څه ډول چي اوه ځلي پر کعبې شريفي راګرځېدل يو طواف بلل کيږي دا ډول اوه ځلي د صفا او مروا تر منځ تګ کول يوه سعي شمېرل کيږي ، د صفا څخه تر مروا تګ يو شوط شمېرل کيږي د مروا څخه بېرته وصفا ته تګ دوهم شوط شمېرل کيږي دوهم ځل چي بيا همدا ډول د صفا او مروا تر منځ تګ او راتګ وکړي څلور شوطه ځني جوړيږي دريم ځل چي بيا همدا تګ او راتګ وکړي شپږ شوطه ځني جوړيږي او بيا چي د صفا څخه تر مروا پوري ولاړ سي اوه شوطه پوره کيږي.




سعي د صفا څخه پيل کيږي پر مروا پای ته رسيږي . عمره کونکی د طواف د لمانځه څخه وروسته د سعي د پيل کولو لپاره د حجر اسود استلام کوي بيا و صفا ته پورته کيږي د صفا د غونډۍ څخه سعي شروع کوي .

صفا ته چي لږ پورته سي مخ د کعبې وخوا ته درېږي د تکبېر او دعاګانو څخه وروسته د مروا په لور په عادي تګ روانيږي ، د صفا او مروا تر منځ البته د صفا خوا ته نژدې پخوا شېله وه دا شېله اوس نښته خو د شېلې ساحه په شين رنګو ميلانو نښاني سوې ده ، سعي کونکی چي څه وخت شنه ميل ته ورسيږي نو بيا تر هغه بل شنه ميله پوري په چټکتيا يعني نيمه ځغاسته وځي ، د شېلې تر ساحې چي ووځي بېرته به عادی تګ کوي څو مروا ته ورسيږي ، ښځي د شنو ميلانو تر منځ هم په عادي تګ ځي .

مروا ته چي پورته سي مخ د کعبې په لور درېږي تکبېر وايي او څوني چي وکولای سي په پورته لاسونو دعاګاني کوي .

او بيا د مروا څخه په عادي تګ بېرته د صفا په لور رهي کيږي ، و شنه ميل ته چي راورسيږي بيا تر هغه بل شنه ميله پوري چي د شېلې برخه ده په نيمه ځغاسته ځي د شېلې د ساحې څخه چي ووځي بېرته عادي تګ کوي څو صفا ته پورته کيږي په دې سره د سعي دوه شوطه پوره کيږي .

په سعي کي هر ځل چي صفا او مروا ته پورته کيږي، مخ به پر کعبې شريفي د ريږي تکبيرونه به وايي او په پورته لاسونو سره دعاګاني کيږي .

د سعي اوم شوط پر مروا پوره کيږي ، عمره کونکی چي د سعي څخه فارغ سي عمره يې بشپړه يږي خو يو شی لا بل هم پر پاته دی چي د هغه په کولو د احرام ټول لګول سوي بنديزونه ځني پورته کيږي هغه د سر خريل يا کوچني کول دي ، ښځي سرونه نسي خريلای البته د احرام څخه د حِلالېدلو د پاره دا ضروري ده چي د ګوتي د بند په اندازه به د ټول سر څخه ورېښتان غچي کوي او يا لږ تر لږه د سر د څلورمي برخي څخه د ګوتي د سر په اندازه ورېښتان غچي کړي ، د يادوني وړ ده که ښځه فقط د کوڅۍ د سر څخه ورېښتان غچي کړي په دې سره دا د احرام څخه نه وځي ځکه د کوڅۍ د څوکي ورېښتان د سر تر څلورمي برخي ډېر کم دي .

د سر خريلو ته په عربي حلق او کوچني کولو ته يې قصر ويل کيږي تر حلق يا قصر وروسته عمره کونکی ټول هغه څه کولای سي کوم چي د احرام لکبله ځني منع سوی وو .

---

يادونه: د حج او عمرې د تفصيلي معلوماتو او مسائلو لپاره "د حج ښه ملګری" کتاب د تعليم الاسلام ويب پاڼې څخه تر لاسه کړئ.



د کعبې شريفي داخل

www.taleemulislam.net